# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د لړم ۲۸مه | د ۲۰۲۰ د نومبر ۱۸مه | ۶۳۱مه ګڼه

2 017550 139621


# د بهرنیو ځواکونو د پاتې کېدو په تړاو؛

## امریکایان د ځواکونو د وتلو، خو افغان چارواکي یې د پاتې کېدو خبره کوي



۳

## پر ګاونډیو د تکیې د ناکاره تجربې تکرار

۲ مخ

## د افغانستان د برېښنايي او مخابراتي سکتورونو رېګولېشن؛ یوه پرتله

۲ مخ

## چین یو ګام مخکې؛ د امریکا له ګډون پرته د جامع سیمه ییز اقتصادي مشارکت تړون

۳ مخ

## کتاب

۴ مخ

### د رسنیو اقتصاد



د رسنیو اقتصاد، د اقتصاد د علم مطالعه د رسنیو له مطالعې سره ګډوي او هغه اقتصادي بدلونونه څېړي چې د مدیرانو، فعالانو او د رسنیو د برخو د نورو تصمیم نیونکو ټاکنې هدایت او یا هم محدودوي.

## کرنې ریاست: په بلخ کې پر ۱۸زره او ۵۰۰ بزګرانو د غنمو اصلاح شوي تخمونه وېشل کېږي



د بلخ د کرنې او مالدارۍ ریاست چارواکي وايي چې د دغه ولایت پر ۱۸زره او ۵۰۰ بزګرانو یې د غنمو د اصلاح شویو تخمونو د وېش لړۍ پیل کړې ده.

د دوی په خبره، په دې لړۍ کې پر ۱۸زره او ۵۰۰ بزګرانو ۷۳۴مټریک ټنه د غنمو اصلاح شوي تخمونه وېشل کېږي.

د بلخ د کرنې ریاست د چارواکو په وینا، دغه تخمونه د ۳۶ میلیونه افغانیو په لګښت او د سبسایډي په ډول د کرنې وزارت له خوا پر بزګرانو وېشل کېږي.

د یادونې ده چې کرنې وزارت په دې وروستیو کې د نوي پلان له مخې، په ټول هېواد کې پر بزګرانو د غنمو د اصلاح شویو د وېش لړۍ پیل کړې چې تر اوسه یې پر لسګونو بزګرانو، زرګونه مټریک ټنه اصلاح شوي تخمونه وېشلي دي.

کرنې وزارت وايي چې د دغه پلان په بشپړېدو سره به له یوې خوا له بزګرانو سره مرسته شوې وي او له بلې خوا به د کوکنارو د کرکېلې مخنیوی وشي.

## دین محمد: که اوسنی وضعیت دوام کوي، افغان سیاسیون پخپله له طالبانو سره ګوري

د افغان مذاکراتو له نامعلوم برخلیک سره هممهاله افغان سیاسیون وايي چې ښایي د مذاکراتي پلاوي پر ځای دوی له طالبانو سره مخامخ خبرې وکړي. افغان سیاسیون او د سولې د برخې فعالین پر دې باور دي چې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ مخامخ مذاکراتو تر دې دمه پایله نه درلوده، نو که روان وضعیت ادامه پیدا کوي، سیاسیون به په خپله مخامخ له طالبانو سره خبرې کوي او د ستونزې د حل هڅه به کوي. بلخوا ځینې سرچینې هم وايي چې د سیاسیونو د یوې ډلې پر جوړېدو کار روان دی، څو له طالبانو سره خبرې وکړي او روانې ناندرۍ پای ته ورسوي. شاوخوا دوې میاشتې کېږي چې په دوحه کې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د مخامخ مذاکراتو پرانیسته وشوه، خو تر اوسه یې کومه پایله او د پام وړ پرمختګ نه دی لرلی. تمه دا وه چې دغه مذاکرات به په افغانستان کې جګړې کمې کړي او د ثبات د راتګ لپاره به ګټور ګام وي، خو داسې ونه شول، جګړې برعکس شدیدې شوې او د ښکېلو لورو ترمنځ کارېدونکي ادبیات د سولې نه، بلکې د جګړې او تاوتریخوالي د ډېرېدو دي. اوس تازه افغان سیاسیون وايي چې که د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ وضعیت همداسې دوام کوي او بن‌بست پر خپل ځای وي، نو دوی به هڅه کوي چې مخامخ له طالبانو سره خبرې وکړي. د ملي مصالحې شورا مرستیال حاجي دین محمد وايي، دوی تمه لري چې په مذاکراتو کې پرمختګ رامنځته شي، خو که پرمختګ نه رامنځ ته کېږي او تاوتریخوالی ډېرېږي، نو دوی اړ دي چې مخامخ له طالبانو سره خبرې وکړي.

## ناټو: له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو وتل به په لوړه بیه تمام شي



۲ مخ

## اتحادیۀ اروپا: در کنفرانس جینوا تعهدات کمک به افغانستان را تجدید میکنیم



سفیر اتحادیۀ اروپا در افغانستان می گوید که در کنفرانس جینوا، در خصوص کمک و همکاری با افغانستان، تعهدات همکاری های قوی خود را تجدید خواهند کرد.

قرار است این کنفرانس، در روزهای (دوشنبه و سه شنبه) هفتۀ آینده، با میزبانی مشترک افغانستان، سازمان ملل متحد و فنلند در شهر جینوا مرکز سویس راه اندازی شود.

اندریاس وون برنت سفیر اتحادیۀ اروپایی، دیروز در یک نشست خبری در کابل گفت که در کنفرانس جینوا در رابطه به افغانستان، یک هیات بلندرتبه اتحادیۀ اروپا اشتراک خواهد کرد.

وی افزود که کنفرانس جینوا، برای حکومت افغانستان و جامعه بین المللی، یک فرصت خوب است که دستاوردهای چندین سال گذشته و چالش های آینده را ارزیابی نماید.

سفیر اتحادیۀ اروپا گفت که آنها با افغانستان همکاری های درازمدت دارند و در چند سال گذشته، در بخش های مالی و سیاسی همکاری کرده اند.

به گفتۀ موصوف، در کنفرانس بین الوزارتی جینوا در سال ۲۰۱۸ میلادی، در خصوص افغانستان اتحادیۀ اروپا، با افغانستان ٤٧٤ میلیون یورو کمک را اعلام کرد.

برنت گفت که این کمک ها در اصلاحات بخش های ملکی، عدلی و قضایی و انتخابات مصرف شده است. وی افزود که در کنفرانس هفتۀ آیندۀ جینوا، جامعه بین المللی بار دیگر تعهدات همکاری های قوی با افغانستان را تازه خواهند کرد.


Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life

دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## سرلیکنه

### پر ګاونډیو د تکیې د ناکاره تجربې تکرار

لوېديځ هېوادونه په يو ډول له افغانستان څخه لاس اخلي، امريکايي او ناټو ځواکونه د وتلو په حال کې دي، له افغانستان سره د مرستندويانو مرستې هم کمېږي او پاتې کمې مرستې يې هم له سختو شرطونو سره غوټه کېږي. په دې سره د افغانستان حکومت خپله يوه لويه او اساسي تکيه له لاسه ورکوي، خو حکومت هڅه کوي چې دا تشه په سيمه ييزو قدرتونو او ځينو ګاونډيو ډکه کړي. له همدې امله له وروستيو بدلونونو وروسته د افغانستان حکومت له ايران او هند سره ډېر نږدې شوی، اړيکې يې ګرمې شوې دي او يو ډول اصلي تکيه پر همدغو هېوادونو کوي.
خو ايا دا سمه او مناسبه تکيه ده؟
له افغانستان سره د نړيوالې ټولنې د مرستو له کمېدو او د امريکايي ځواکونو له وتلو وروسته حکومت د هند او ايران پر مرستو تکيه کوي. ويل کېږي چې دغو دواړو هېوادونو د مرستو د ډېرولو او دوام ډاډ ورکړی دی. ځينې نور هېوادونه هم شته، خو دا دوه پکې مهم او اصلي لوبغاړي دي. که امريکايي ځواکونه وځي او نړيواله ټولنه مرستې کموي، نو دوی لويې وېرې دي، يو دا چې طالبان به له نظامي اړخه حکومت لاندې کړي او بل دا چې حکومت به له مالي اړخه کمزوری شي، ملا به يې کړه شي او د سقوط پر پوله به ودرېږي. حکومتي چارواکي دا هر څه درک کوي؛ ځکه د بهرنيو چارو وزير په واضح ډول ويلي چې مرستې کمېږي او پاتې مرستې لس شرطونه لري. داسې ښکاري چې دا شرطونه به سخت وي او حکومت به يې پوره نه شي کړلی، نو ځکه هند، ايران او ځينو نورو هېوادونو ته مخه کوي. دغو هېوادونو ورسره د مرستو ژمنې هم کړې دي، خو دا مرستې په وينو لړلې دي. هند له وړاندې تورن و چې د ملېشو د جوړولو پروژه پر مخ وړي او غواړي له طالبانو سره د جګړو لپاره د خپلو پخوانيو متحدينو او حکومت پر مټ ملېشې جوړې کړي. ايران بيا د افغان له دې مجبوريت څخه په ګټې اخيستنې خپلې ژورې ګټې پالي. ښايي ايران له حکومت سره مالي مرستې وکړي، خو سر له اوسه هڅه کوي چې د دوو اړخيزو تړونونو له لارې د افغانستان په اوبو کې ځان ته لويه ونډه خوندي کړي او له بله اړخه د عراق په شان له امريکا وروسته په افغانستان کې ژور سياسي نفوذ پيدا کړي.
خو د ايران او هند دواړو مرستې نه اوسنی حکومت ژغورلی شي او نه هم د افغانستان په خير دي. دا په وينو لړلې مرستې دي، دواړه هېوادونه غواړي دلته جګړه او وژنې دوام وکړي او له حکومت سره يې مرستې هم په همدې موخه دي. پر ايران او هند تکيه به افغانستان د سيمه‌ييزو لوبغاړو د لوبو پر ډګر بدل کړي، نيابتي جګړې به زياتې شي او دواړه هېوادونه به له حکومت سره داسې کومه مرسته هم ونه شي کړلی چې د حکومت لپاره پياوړې تکيه شي. له همدې کبله پر بهرنيانو او بيا پر ناکاره ګاونډيو بايد تکيه ونه شي. دا نه د حکومت د ژغورنې لاره ده او نه هم د افغانستان د ژغورنې. پکار ده چې اصلي تکيه پر خپلو خلکو، جوړجاړي او سوله وشي. که سوله ونه شي، نه هند، نه پاکستان او نه هم ايران موږ ژغورلی شي، بلکې لا زيات به مو د جګړو کندې ته ورټېل وهي. پکار ده چې د ژغورنې پر اصلي لاره تکيه وشي، د سولې پروسه جدي وګڼل شي، قرباني ورکړل شي او بالاخره دا پروسه بريالۍ کړل شي. همدا د افغانستان او زموږ ټولو د ژغورنې لاره ده.

# د افغانستان د برېښنايي او مخابراتي سکټورونو ريګولېشن؛ يوه پرتله

ليکنه: محسن امين

### لومړۍ برخه:

**لنډيز**

برېښنا او مخابراتي سکټور د يو هېواد په صنعتي کېدو کې مهم رول لوبوي. افغانستان اوسمهال هم خپله ډېرى برېښنا له ګاونډيو هېوادونو را واردوي. دا چې په تېرو شلو کلونو کې په دې سکټور کې د رفورم او قانون جوړونې په برخه کې څه وشول؟ په دې سکټور کې د دغو رفورمونو او قانون جوړونو تاثيرات څه وو؟ د برېښنايي او مخابراتي سکټورونو اوسنۍ ننګونې څه دي او آيا د مخابراتو سکټور د برېښنا سکټور لپاره د يو ماډل په توګه اخيستلای شو؟ په دې مقاله کې له دې سکټور سره تړل شوي متخصص نه دا چې دا پوښتنې يې ځواب کړې دي، بلکې ځينې وړانديزونه يې هم کړي دي.
په هغو سکټورونو کې چې خلکو ته پکې د زيربناوو له لارې خدمات وړاندې کېږي، لکه برېښنا، ګاز، مخابرات، د څښلو اوبه او داسې نور، دې دا ډول سکټورونو د ښه فعاليت لپاره چې عرضه کوونکې خپل خدمات پر ټاکلي وخت وړاندې کړي، له خپلو پېرېدونکو سره عادلانه چلند وکړي، تعرفه او د خدمت بيه په خپل سر لوړه نه کړي، پر وخت ماليه ورکړي، د فعاليت لپاره جواز ولري او د داسې نورو ورته اړينو فعاليتونو لپاره اړينه ده چې د دولت لخوا دې سکټور ته په پيل کې حقوقي چوکاټ يا Legal Framework جوړ کړای شي. ورپسې د سکټور د تنظيم لپاره Regulatory Framework د رامنځ ته کولو ترڅنګ د مارکېټ د تنظيم يا ريګولېشن او د مقرراتو د پلي کولو لپاره د يوې خپلواکې ادارې جوړول اړين بلل کېږي. دا اداره په بېلابېلو نومونو يادېدلای شي، د بېلګې په توګه، په ځينو هېوادونو کې ورته Regulatory Authority وايي او په نورو هېوادونو کې د خپلواک کمېسيون يا بورډ په نامه هم يادېږي.
په طبيعي شکل په پورته يادو شويو سکټورونو کې د بېلابېلو لاملونو له امله انحصار يا Monopoly را منځ ته کېږي او ډېرى وخت يو ستر حکومتي شرکت د خدماتو په وړاندې کولو سره مارکېټ تر ځان پورې منحصروي او که چيرې د قانون لخوا د مارکېټ جوړولو سپارښتنه شوې وي، نو بيا دوه يا درې خصوصي شرکتونه سکټور ته د Oligopoly په بڼه دننه کېږي. د دې لوی لامل دا دی چې د زېربناوو په برخه کې پانګونه سخته ده، په پيل کې سترې پانګې ته اړتيا وي چې د سکټور لپاره پکې زېربنا جوړه شي، خو ګټه يې کلونه وروسته را ښکاري. نو ځکه ډېر پانګوال په پورته يادو شويو سکټورونو کې يا د پانګې اچونې وړتيا نه لري او يا ورته زړه نه ښه کوي.
که چيرې د زېربنا ځينې برخې د حکومت لخوا جوړې شوې وي او ځينې يې خصوصي سکټور ته پرېښې وي، چې جوړې يې کړي، نو هغه شرکتونه چې په لومړيو کې پانګونه وکړي، هغوی پر خپلې زېربنا پوره کنټرول لري او په راتلونکي کې نوي شرکتونه په اسانۍ سره مارکېټ ته نشي را ننوتلی. نو له همدې امله کوم شرکتونه چې په پيل کې کومه سيمه تر خپل پوښښ لاندې راولي، هماغه شرکتونه په هغه ښار يا ولايت کې خلکو ته په انحصاري شکل خدمات عرضه کوي او نور سيال شرکتونه د هغوی په مارکېټ کې برخه نشي اخيستلی.
د انحصار د ماتولو او يا د کنټرول لپاره حکومت د دې اړتياويني چې مداخله وکړي، ځکه دلته خبره د ګوتو په شمېر عرضه کوونکو او د ميليونونو پېرودونکو ده. کله چې عرضه کوونکو ته دا اختيار ورکړل شي چې ډېرو پېرودونکو ته خدمات عرضه کړي، نو د دې امکان شته چې عرضه کوونکي له خپل اختيار او صلاحيت څخه ناسمه ګټه پورته کړي او اغېز يې ميليونونو خلکو ته ورسيږي. له همدې ځايه حکومت او سياستوال غواړي په دې برخه کې مداخله وکړي، څو خلک زيانمن نه شي او د هغوی له حقونو څخه ساتنه وکړي او يا د سياسي اهدافو لپاره غواړي د خلکو رضايت تر لاسه کړي. حکومتونه د انحصاري شرکتونو د کنټرول او څارنې لپاره قوانين جوړوي او د تنظيم لپاره يې مقررات او خپلواکې اداري رامنځ ته کړې چې د عرضه کوونکو او مشتريانو تر منځ مناسب او عادلانه قيمت وټاکي او شخړې په وخت سره اواري کړي.

**د افغانستان د برېښنا او مخابراتو په سکټورونو کې د مارکېټ رامنځ ته کولو مخينه**

په ۱۹۶۰ او ۱۹۷۰يمو لسيزو کې په پورته يادوو شويو سکټورونو کې د مارکېټ د ايجاد تصور د افغانستان له حکومت سره نه و. د خصوصي سکټور د پانګونې په اړه تګلاره نه وه او حکومت فکر کاوه چې يوازې حکومتي اداري او تصدۍ پر دې مکلفې دي چې برېښنا او د ټيليفون تارونه خلکو ته تر کوره ورسوي. په دې اړه ځېړنو ته اړتيا ده چې د دې لامل څه و؟ ايا هغه مهال افغان حکومت د شوروي اتحاد د کمونيستي سيستم تر اغېز لاندې و او که حکومت په ځان کې دا وړتيا ليدله چې ټول افغانستان ته په خپلو امکاناتو د برېښنا او مخابراتو خدمات وړاندې کولای شي؟ که څه هم هغه مهال په ډېرى هېوادونو کې لا د مارکېټ پر اساس د سيالۍ موډل نه و رامنځ ته شوی او حکومتي تصديو دا کار مخې ته يوړ. تر ۲۰۰۳ کال پورې د افغانستان په مختلفو حکومتونو کې همدا تصور غالب و چې د خصوصي سکټور پانګې ته اړتيا نشته او حکومتي تصدۍ دا خدمات وړاندې کولای شي.
له ۲۰۰۳ کال وروسته د ازاد مارکېټ او د خصوصي سکټور د اړتيا تصور رامنځ ته شو او مختلفو سکټورونو مختلفې تګلارې خپلې کړې. د برېښنا او مخابراتو سکټورونو، هر يوه ځان ته دوې ځانګړې تګلارې غوره کړې چې په لاندې ډول يې مقايسه کوو:

**لومړی؛ د برېښنا په سکټور کې له ۲۰۰۳ څخه تر ۲۰۰۸ کال پورې اصلاحات**

د افغانستان د انرژۍ او اوبو وزارت په ۲۰۰۴ کال کې وتوانيد چې د يو بهرني شرکت په مرسته د برېښنا سکټور لپاره تفصيلي ماسټرپلان جوړ کړي. دا ماسټرپلان چې په پنځو جلدونو کې ترتيب شوی و، د برېښنا سکټور پر شبکو، بندونو او د توليد پر فابريکو باندې را څرخېږي. دغه مهال له حکومت او مرسته کوونکو ادارو او هېوادونو سره تصور دا و چې تر هر څه د مخه د افغانستان لويو ښارونو ته بايد برېښنا ورکړل شي، هغه هم په اسانه او کم مصرفه طريقه چې په لنډ وخت کې عملي شي. د بهرنيو او نړيوالو کارپوهانو نظر دا و چې تر ټولو اسانه لار له ګاونډيو هېوادونو څخه د برېښنا واردول دي، ځکه د اوبو ستر بندونه لږ تر لږه په ٦ او ۷ کلونو کې جوړېږي او په سلګونو ميليونو ډالرو ته پکې اړتيا ده. جالبه دا وه چې د برېښنا په نورو توليدي فابريکو لکه د ګازو، ډبرو سکرو، لمريزې برېښنا او بادو څخه د برېښنا پر توليد تمرکز ونه شو او نه يې هم لومړيتوب درلود.
ډونرانو (مرسته کوونکو) د ځينو دلايلو له امله په سترو بندونو کار پيل نه کړ، بلکې دا يې غوره وګڼله چې له مرکزي اسيا او ايران څخه افغانستان ته د لوړ ولتاژ د انتقال لينونو په مرسته برېښنا وارده کړي. هغه لاملونه چې ولې مرسته کوونکو نه غوښتل پر بندونو کار پيل کړي، د هغه له جملې څخه درې يادولی شو:
۱ـ له ګاونډيانو سره د اوبو د تړون او تفاهم نشتون او يا له ګاونډيانو سره پرې د ناندريو را پورته کېدلو انديښنه
۲ـ په پيل کې د لويې بوديجې اړتيا
۳ـ د پروژو د بشپړولو اوږدمهاله مهالوېش او د هېواد بې ثباته سياسي او امنيتي وضعيت
که چيرته هغو مرستو ته وګورو چې په تيرو اتلسو کلونو کې د برېښنا په سکټور کې د ډونرانو لخوا شوې، شمېر يې تر ۴ ميلياردو ډالرو اوړي. ډېرې داسې پروژې شته چې په سلګونو ميليونه ډالر پکې بې ځايه مصرف شوي او خلکو ته يې چې څنګه پکار وه، هغسې ګټه نه ده رسولې، د تره‌خيلو ۱۰۰ ميګاواټه برېښنا ډيزلي دستګاه يې د مثال په توګه يادولی شو.
د امريکايي حکومت لخوا په ۲۰۰۴ کال کې د افغانستان د انرژۍ سکټور د جوړولو او په سکټور کې د افغانانو د ظرفيت لوړولو په موخه له يو امريکايي شرکت سره قرارداد وشو، د قرارداد قيمت ۷۴ ميليونه ډالره و. دا شرکت چې Advanced Engineering Associates International نوميږي، په څلورو کلونو کې يې دا قرارداد تکميل کړ، خو لکه څنګه يې چې تمه کېدله، د انرژۍ سکټور د ادارو او پرسونل ظرفيت چې څنګه پکار وه، په هغسې ډول وده ونه کړه. د بېلګې په توګه، په دې څلورو کلونو کې چې د برېښنا سکټور لپاره ډېره مهمه دوره وه، بايد د سکټور لپاره پکې حقوقي چوکاټ، د برېښنا قانون، پاليسۍ او مقررات جوړ شوي وای، څو سکټور پر ځان بسيا شوی وای؛ خو له بدمرغه په دې کلونو کې دا کار ونه شو او د حکومت ټول پام له ګاونډيو هېوادونو څخه د برېښنا پر واردولو باندې و.
د افغانستان حکومت د ډونرانو په مشوره او مرستو مخې ته ولاړ او له ګاونډيو هېوادونو يې د برېښنا د واردولو پر برنامې کار پيل کړ. که تېرو پروژو ته وګورو، تقريباً ټوله پروسه د ډونرانو له لوري رهبري کېدله او حکومت يوازې د لاسليک په مراسمو او له ګاونډيانو سره په مذاکراتو کې برخه اخيستله. د شبکې ډيزاين او طرحه جوړونه، د پروژو تطبيق او نورې برخې د بهرنيو سلاکارانو او ډونرانو په لارښوونه مخ ته تلل. ډونرانو د دې لوی لامل د افغانستان په حکومت کې د ظرفيت نشتون ياداوه.

**دوام لري...**

## ناټو: له افغانستانه د بهرنيو ځواکونو وتل به په لوړه بيه تمام شي



د ناټو عمومي منشي ينس سټولټنبرګ خبرداری ورکړی چې له افغانستان څخه د امريکايي او ائتلافي ځواکونو بېړني وتل به دغه هېواد د نړيوالو ترهګرو پر مرکز بدل کړي.
د نوموړي دغه پيغام د هغه راپور په غبرګون کې خپور شوی چې له مخې يې د امريکا د متحده ايالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ غواړي چې له افغانستان څخه د امريکايي ځواکونو د ايستلو بهير چټک کړي. سټولتنبرګ په يوه اعلاميه کې ويلي: «د ژر وتلو او يا د ناهمغږي شوو وتلو تاوان ښايي ډېر زيات وي.»
دا په داسې حال کې ده چې سي ان ان ټلوېزيوني شبکې ورمه ورځ د امريکا د پوځي چارواکو په حواله رپوټ ورکړ چې د دې اونۍ په ترڅ کې به ولسمشر ټرمپ له افغانستان او عراق څخه د ځواکونو د ايستلو امر وکړي.
خو امريکايي سناتور مېچ مک کانل له افغانستان څخه په بېړه د امريکايي ځواکونو د ايستلو لپاره د ټرمپ پر پرېکړې په نيوکې سره خبرداری ورکړی او دا کار يې د امريکا دښمنانو ته بخشش او په سيمه کې د شويو پرمختياوو کمزوري کول ګڼلي دي.
مک کانل ويلي: «په بېړې سره له افغانستان څخه د امريکايي ځواکونو وتل زموږ متحدينو ته زيان رسوي او د هغو کسانو د خوشالۍ لامل کېږي چې موږ ته زيان اړوي».
دا په داسې حال کې ده چې اوسمهال په افغانستان کې شاخوا ۴۵۰۰ امريکايي سرتېري حضور لري او د ټرمپ د پرېکړې پر اساس ښايي دغه شمېر ۲۵۰۰ ته راکم شي.
په ورته وخت کې د افغانستان د دفاع وزارت سرپرست تېره ورځ وويل چې تراوسه له افغانستان څخه د ټولو بهرنيو ځواکونو د وتلو په تړاو تصميم نه دی نيول شوی.
خالد وويل، ټول د امريکايي او ناټو ځواکونو له وتلو څخه انديښنه لري، خو ټول بايد پوه شي چې که بهرني ځواکونه له افغانستان څخه ووځي هم، افغان ځواکونه د پوځي عملياتو د پرمخ بيولو توان لري. د هغه په وينا، ۹۶سلنه عمليات افغان ځواکونه په خپلواکه توګه ترسره کوي.

# چین یو ګام مخکې؛

## د امریکا له ګډون پرته د جامع سیمه ییز اقتصادي مشارکت تړون



اعظم منور

د آسیا لسو غړو هیوادونو جمع چین، جاپان، سویلي کوریا، استرالیا او نویزیلنډ د نوامبر په ۱۵مه د جامع سیمه ییز اقتصادي مشارکت تړون «RCEP» لاسلیک کړ.
د دغه تړون موخه په راتلونکو کلونو کې په ډېرو برخو کې د تعرفو کمول ښودل شوې، چې د لاسلیک لپاره یې له تېرو اتلسو کلونو را هیسې ۲۸ پړاوه خبرې شوې او غړې یې بالاخره موافقې ته ورسېدل او تړون یې لاسلیک کړ.
د سي جي تي ان د خبر له مخې، د دې تړون پنځلس غړي هېوادونه د نړۍ کابو له دریو یوه برخه نفوس او د نړۍ کابو دېرش سلنه ناخالص داخلي تولیدات جوړوي.
د پام وړ ټکی دا دی چې امریکا د لومړي ځل لپاره د نړۍ په کچه مهم تړون کې ګډون نه لري او یاد تړون د دغه هېواد د استازو له شتون پرته لاسلیک شو.
امریکا او چین د نړۍ د لومړۍ او دویمې کچې لوی اقتصادي قدرتونه دي او له ډېرې مودې راهیسې په اقتصادي برخه کې ښکر په ښکر روان دي.
امریکا هڅه کوي چې د چین د چټکې اقتصادي ودې مخه ونیسي او په مقابل کې یې چین هم د خپل اقتصادي پرمختګ لپاره نوې لارې پیدا کوي.
چین په ۲۰۱۳ کال کې د (یو کمربند یوه لار) وړاندیز مطرح کړ او له مخې یې په ډېرو هېوادونو کې پانګونې هم وکړې.
د بېلګې په توګه، چین د یو کمربند یوې لارې طرحې پر اساس د پاکستان د ګوادر بندر په ګډون، په ځینو سیمو کې زیاتې پانګونې وکړې.
هند چې د پاکستان پخوانی سیال دی، د ایران په چابهار بندر کې یې سلګونه میلیونه ډالره پانګونه وکړه او دغه راز امریکا که څه هم له ایران سره یې اړیکې خرابې دي، خو د ګوادر بندر د رول کمېدو په موخه یې د پاکستان پخواني سیال هند لپاره د ایران چابهار بندر له بندیزونو څخه معاف کړ.
په مقابل کې یې چین ایران ته د ۲۵ کلنې همکارۍ د سند وړاندیز وکړ چې ایراني چارواکي یې د دواړو لوریو په ګټه ګڼي.
په چین کې د ایران پخواني سفیر مهدي صفري د ایران له دویم ټلوېزیوني چینل سره په مرکه کې دغه سند د ایران او چین دواړو په ګټه وباله او د ده په وینا، په دې سند کې د انرژۍ، صنعت او کانونو، سیاحت، روغتیا، امنیتي، پوځي او نورې برخې شاملې دي.
دغه راز د امریکا د رسمي سرچینو د معلوماتو له مخې، دغه هیواد سږ کال له اقتصادي ځوړتیا سره مخ شوی.
د امریکا د اقتصادي تحقیقاتو ملي ادارې د جون په لومړۍ لسیزه کې اعلان وکړ، چې د کوویډ- ۱۹ وبا په وجه امریکا په رسمي ډول له اقتصادي ځوړتیا سره مخ شوې او دا د دغه هېواد په تاریخ کې د اقتصادي پراختیا د اوږده پړاو ختم دی.
په مقابل کې یې چین که څه هم د کوویډ- ۱۹ له امله زیانونه لیدلي، خو د امریکا په نسبت یې زیان کم دی او د پام وړ دا ده چې چین په خپل هېواد کې کوویډ- ۱۹ کنټرول کړی او د واکسین په جوړولو کې یې هم پرمختګونه کړي.
اوس امریکا وېره لري چې ښایي د چین اقتصاد چې لا له مخکې د چټکې ودې په حال کې دی، د کوویډ- ۱۹ په مخنیوي سره به یې نړیوال باور نور هم زیات شي او په مقابل کې به امریکا چې له یوې خوا له اقتصادي ځوړتیا سره مخ شوې، له بلې خوا به د ساینس او ټکنالوژۍ په برخه کې په نړۍ کې خپل باور له لاسه ورکړي، نو ځکه یې په دې وروستیو کې په خپل هېواد کې د چیني شرکتونو د فعالیتونو منع کېدو ته مخه کړې.
امریکا نه یوازې په خپل هېواد کې د چیني شرکتونو د فعالیت د بندولو اقدام کوي، بلکې هڅه کوي چې په دې برخه کې نور هېوادونه په ځانګړې توګه اروپایي هېوادونه هم له ځان سره ملګري کړي، خو تر اوسه نه ده توانېدلې.
دغه راز که څه هم په امریکا کې کورني جنجالونه اوږد تاریخ لري، خو سږ کال پکې د نژادي تبعیض پېښې دومره لوړې کچې ته ورسېدې چې د نړیوالو خبرونو مهم سرټکي جوړوي.
پر دې سربېره، د دغه هېواد له ولسمشریزو ټاکنو وروسته له رامنځ ته شویو ننداریو سره هممهاله ډېرې تحلیل ګران لري نه ګڼي چې په دغه هېواد کې کورنۍ شخړې رامنځ ته شي.
له بلې خوا د روغتیا نړیوال سازمان په ګډون، له ځینو مهمو نړیوالو تړونونو څخه د امریکا د وتلو له امله هم دغه هېواد په نړیواله کچه ګوښه شوی او اوس یې هغه پخوانی برم نشته چې د نړۍ د مهمو معادلو په ټاکلو کې به یې غوښنه ونډه درلوده.
په مقابل کې یې چې چین د جامع سیمه ییز اقتصادي مشراکت تړون مهم غړی او مبتکر ګڼل کېږي او د اقتصادي همکاریو په لړ کې یې د ملګرو شمېر مخ په زیاتېدو او د تلې پله یې د امریکا په مقابل کې د درنېدو په حال کې ښکاري.
چیني چارواکو دغه تړون د ځان، سیمې او نړۍ لپاره ګټور بللی او په وینا یې، د دغه تړون ګټې به له سیمې څخه پراخې او نړیوالې وي.
د چین لومړي وزیر لي که جیانګ د نوامبر په ۱۵مه اعلان وکړ چې د جامع سیمه ییز اقتصادي مشارکت تړون لاسلیک کېدل د څو اړخیزم او آزادې سوداګرۍ لپاره یوه بریا ګڼل کېږي.
د شین هوا آژانس د خبر له مخې، د چین لومړي وزیر د دغه تړون لاسلیک کېدو په اړه ترتیب شوې ویډیویي ناسته کې ویلي، چې د جامع سیمه ییز اقتصادي مشارکت تړون لاسلیک یوازې د ختیځې آسیا سیمه ییزې همکارۍ لپاره ستره لاسته راوړنه نه، بلکې د څو اړخیزم او آزادې سوداګرۍ لپاره یوه ستره بریا ګڼل کېږي.
لنډه دا چې د امریکا مخ پر ځوړ اقتصادي وضعیت او د چین چټکې اقتصادي ودې ته په پام سره، داسې اټکل کېدای شي چې چین به ډېر ژر له امریکا څخه مخکې شي.

# د بهرنیو ځواکونو د پاتې کېدو په تړاو؛

## امریکایان د ځواکونو د وتلو، خو افغان چارواکي یې د پاتې کېدو خبره کوي



سره له دې چې امریکایي چارواکي له افغانستانه د خپلو سرتېرو پر ایستلو ټینګار کوي، خو افغان چارواکي ډاډه دي چې بهرني ځواکونه له افغانستان څخه نه وځي. پرون د افغانستان د ملي دفاع وزارت سرپرست او نوماند وزیر ولسي جرګې ته په خپلو خبرو کې وویل، ډاډه دی چې بهرني په تېره امریکایي عسکر په بشپړه توګه له افغانستان څخه نه وځي، بلکې په شمېر کې به یې ډېروالی راشي. هغه همدا راز ویلي ډاډه نه دی چې د دوحې د سولې مذاکرات دې یوې پایلې ته ورسېږي. بلخوا امریکایي چارواکي بیا ټینګار کوي چې له افغانستانه به خپل سرتېري وباسي، ناټو بیا د دې اقدام په اړه خبرداری هم ورکړی دی.
له څو ورځو راهیسې په بهرنیو، په تېره په امریکایي رسنیو کې له افغانستانه د امریکایي عسکرو د ایستلو مسئله توده ده. امریکایي رسنیو تازه راپور ورکړی چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ به په نږدې ورځو کې له افغانستانه د ټولو سرتېرو د ایستلو اعلان وکړي. تر دې اعلان وروسته به پنټاګون د راتلونکي میلادي کال د جنورۍ تر ۱۵مې ټول امریکایي عسکر له افغانستانه وباسي او امریکا ته به یې رسوي.
دا هغه مهال دی چې د ټرمپ د واک پای ته رسېدو ته به یوازې پنځه ورځې پاتې وي.
ځینې امریکایي رسنۍ بیا وایي چې ټرمپ په دې تړاو تیار فرمان لاسلیک کړی، خو پنټاګون ته یې نه دی سپارلی. د پنټاګون چارواکي بیا وایي، دوی یوازې د ټرمپ امر ته په تمه دي او تر هغه وروسته به په چټکه توګه د سرتېرو ایستل پیل کړي.
دلته په افغانستان کې بیا د ملي دفاع سرپرست وزیر وایي، هېڅ داسې نښه نښانه یې نه ده لیدلې چې وښیي امریکایي ځواکونه له افغانستانه وځي. د ده په خبره، بهرني ځواکونه له افغانستان څخه نه وځي او په دې تړاو هېڅ نښه نښانه ده ترسترګو شوې، بلکې د دې احتمال شته چې د دغو ځواکونو شمېر تر دې هم ډېر شي. اسدالله خالد چې پرون یې د ولسي جرګې غړو ته د باور رایې اخیستو لپاره خپل پروګرامونه تشریح کول، وویل: ((زه ډاډه یم، ستاسې د دفاع د وزیر په توګه زه ډاډه یم چې بهرنیان له افغانستان څخه نه وځي. دا سمه ده د شمېرو په برخه کې به تفاوتونه وي، خو په بشپړه توګه بهرني په تېره بیا امریکایي عسکر له افغانستان څخه نه وځي. هېڅ داسې نښې نښانې نه لیدل کېږي، برعکس د دې امکان شته چې سرتېري دلته ډېر شي)).
اسدالله خالد همدا راز وایي، سره له دې چې بهرني ځواکونه به له افغانستان څخه نه وځي، خو که دوی وځي هم، افغان پوځ له خپل هېواد د دفاع او د ترهګرو پر وړاندې د مبارزې وړتیا لري. د خالد په خبره، دمګړۍ په افغانستان کې ۹۶ سلنه عملیات په خپله د افغان ځواکونو له لوري ترسره کېږي او یوازې په څلور سلنه مواردو کې له بهرنیو ځواکونو د هوایي عملیاتو په برخه کې مرسته غوښتل کېږي. خالد دغه راز وویل چې په راتلونکي کال کې د افغان پوځ د لا پیاوړتیا، د لا ډېرو ولسوالیو د نیولو او د ترهګرو پر ضد د لا کوټلو عملیاتو پلان لري. خالد دغه راز وایي، ډاډه نه دی چې د سولې خبرې به یوې پایلې ته ورسېږي؛ ځکه طالبان پر خپل دریځ ولاړ دي، خو دی ټینګار کوي چې که سوله راځي، نو د افغانستان ملي اردو به د دې سولې او اوربند ساتنه کوي.
بلخوا د ناټو عمومي منشي ینس سټولټنبرګ چې تازه یې د امریکا د دفاع له نوي سرپرست وزیر سره پر بېلابېلو مسایلو خبرې کړې دي، وایي چې له افغانستانه به په بېړه د سرتېرو ایستل ستره بیه ولري. نوموړي ټینګار کړی چې په افغانستان کې به د ترهګرو تر ختمولو پورې د دوی سرتېري حاضر وي؛ ځکه نه غواړي ترهګرې ډلې له فرصت په استفادې په افغانستان کې د پښې ځای پیدا کړي او نړیوال امنیت ته خطرونه جوړ کړي. یوازې ناټو نه، بلکې په امریکایي حکومت کې هم ګڼ کسان له افغانستانه د ټولو سرتېرو د ایستلو مخالف دي او په دې اړه د ټرمپ عجولانه پرېکړه خطرناکه بولي.

# <u>موډرنا:</u> د کرونا ویروس پر ضد جوړ شوی واکسین ۹۵ سلنه ګټور دی


په داسې حال کې چې کرونا ویروس لاهم په نړۍ کې په چټکۍ سره د پراختیا په حال کې دی، خو د درمل جوړولو امریکایي شرکت موډرنا اعلان کړی چې د دغه ویروس پر ضد د دوی له لوري جوړ شوی واکسین نږدې ۹۵ سلنه اغېزمن دی.
د یادونې ده چې په نړۍ کې د کرونا ویروس له خپرېدو څه کم یو کال تېرېږي، لسګونه میلیونه کسان پرې اخته دي او نږدې یو نیم میلیون تري مړه شوي دي.
په ورته وخت کې د موډرنا امریکایي کمپنۍ اجرایي رییس سټېفن بانسل په یوه بیان کې ویلي چې د دوی د واکسین د دریېم پړاو پایلې ښیي چې د کوویډ۱۹ په مخنیوي کې بریالی دی.
د موډرنا شرکت په وینا، دا واکسین نږدې ۹۵ سلنه د کرونا ویروس پر وړاندې اغېزمن دی. تمه کېږي چې موډرنا کمپنۍ په راتلونکو اونیو کې په نړۍ کې د دې واکسین د عرضه کولو غوښتنې ومنې.
ټاکل شوې چې د روان میلادي کال تر پایه پورې ۲۰ میلیون ډوزه واکسین په امریکا کې خلکو ته ورکړل شي. موډرنا خپل واکسین پر کابو ۳۰ زره داوطلبو خلکو ازمویلي چې د کرونا ویروس پر وړاندې یې د دغو خلکو مصونیت نږدې ۹۵ سلنه زیات کړی دی.
تېره اونۍ د امریکا فایزر او د جرمني بیو این ټیک شرکتونو اعلان وکړ چې د دوی له لوري په ګډه جوړ شوی واکسین د کرونا ویروس پر وړاندې ۹۰ سلنه بریالی دی.
بلخوا د اروپایي کمېسیون رییسې اورسلا وون ویلې، دا کمېسیون به د جرمني له کیور واک کمپنۍ څخه د ۴۰۵ میلیونه ډوزه واکسین د پېرلو فرمایش ورکړي.
دا په داسې حال کې ده چې کرونا ویروس لاهم په نړۍ کې په چټکۍ سره د پراختیا په حال کې دی. د تازه شمېرو له مخې، په ټوله نړۍ کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۵۵ میلیونه او ۵۳۷ زره او ۸۸۰ ته رسېدلې، یو میلیون او ۳۳۵ زره کسان ترې مړه شوي او نږدې ۳۹ میلیونه نور ترې بېرته رغېدلي دي.
د دغو شمېرو پر اساس د امریکا متحده ایالتونه، هند، برازیل، فرانسه او روسیه هغه پنځه هېوادونه دي چې د یاد ویروس ډېر مثبتې پېښې پکې ثبت شوې دي.

## د کتاب خبرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# ISI, RAW
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسدوراني او ادیتیا سینها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### دویمه برخه
### د نړۍ دویم تر ټولو زوړ مسلک




دولت: ستاسو خبره په زړه پورې او سمه ده ښاغلیه، د هند ولسواکي په نړۍ کې یو له غوره هغو څخه ګڼل کېږي. زه له ۱۹۹۰ څخه تر ۲۰۰۴ کاله پورې چې حکومت مې پرېښود، د هند د بیروکراسۍ شاهد پاتې شوی یم. هغه څه چې ما ولیدل، ستونزه او نیمګړتیا په سیاستوالو کې نه ده، بلکې په بیروکراسۍ کې ده. د ټولو هغو سترو شخصیتونو له ډلې چې ما په ډیلي کې د خپل ۱۴ کلن ماموریت په ترڅ کې ولیدل، له ځینو استثناءاتو پرته نور یې بیروکراتان وو او د څه شي په مخه کې نه درېدل. خو د ډاکټر منموهن سېنګ په اړه، هغه و نه شوای کولای چې پاکستان ته لاړ شي ځکه چې ګوند یې ملاتړ و نه کړ او په خواشینۍ سره چې بیروکراسۍ له هغه سره مرسته ونه کړه چې لاړ شي. کله به چې کومه ستونزه پېښه شوه، نو د ملامتۍ ګوتې به سمدلاسه هغه ته نیول کېدې.

دوراني: ولسواکي هر چېرته مشهوره هم نه ده، که امریکا ده، جرمني دی یا بل کوم ځای. ستاسو څرګندونه جالبه ده چې د سیاستوالو ګناه نه ده. زموږ په برخه کې، موږ لا هم د چارو د ترسره کولو لپاره په ډیموکراټیکو لارو چارو نه یو روان شوي. تر اوسه داسې نه دي شوي، نه یوازې سیاستوال بلکې ځینې وخت د پوځ مشرتابه هم په پاکستان کې د بیروکراټیک فرهنګ په برخه کې پر بلل کېږي چې له امله یې په چارو کې نا اغېزمنتیا رامنځته کېږي او هڅه کېږي چې خپلې غوښتنې په زور عملي کړي. دا یو زوړ دود دی چې د بدلون لپاره یې ګام نه دی اخیستل شوی.

دولت: یو بل ټکی چې جنرال صېب ورته اشاره وکړه، د بیروکراسۍ سنتي ناپېیلتوب دی. خو اوس په کوم ځای کې ده؟ په هند کې له اغلې ګاندي سره دا وضعیت پای ته ورسېد. په بریټانیا کې ښایي اوس هم شته وي، خو که وي هم، نو دا به یوازېنی هېواد وي.

دوراني: ایوب خان د دې کار هڅې پیل کړې وې، چې لړ یا ډېر یې دوام وکړ.

دولت: تاسو چې د ایوب خان د هڅو یادونه کوی، د بریټانیا تر وتلو وروسته دې چارې څومره دوام وکړ؟

دوراني: د ذوالفقار علي بوټو په وخت کې یې زوال پیل شو او د ضیاءالحق په وخت کې لا پسې چټک شو. د فساد کلتور دا چاره نوره هم ناوړه کړه، چې ان د پوځ بیروکراسي یې هم له اغېزو خوندي پاتې نه شوه.

سینها: تاسو یوه ورځ ویلي وو چې د شوروي د نظام یوه ستونزه دا وه چې نیوکو ته پکې اجازه نه وه. خو ایا په پوځي نظام کې نیوکې شته؟

دوراني: په موږ کې داسې دود یا کلتور دی چې کله یو څوک څه نه خوښوي، نو بل ورته وایي: ایا ته ډېر پوهېږې؟ دا هغه کلتور دی چې مشر د بېلابېلو نظریو او مفکورو خلک نه خوښوي. ما یوه ورځ د جرمني له پوځ سره په پوځي تمریناتو کې برخه اخیستې وه. ماښام مهال له یوه ځایي قوماندان او ځینو افسرانو سره په مې خانه کې ناست وو. هر یو د خپلو شرابو پیسې ورکړې. هغوی په ازادانه ډول له یو بل سره مخالف نظرونه تبادله کول. خو موږ لا تر اوسه دې ځای ته نه یو رسېدلي.

سینها: ایا په ډیلي کې د RAW غړي په اسلاماباد کې د ISI د غړو په پرتله له سختې دندې سره مخ دي؟

دوراني: زه نه پوهېږم. زما په وخت کې – سره له دې چې د کشمیر موضوع ګرمه وه- یاد ته مې نه راځي چې کوم چا شکایت کړی وي. خو زه دا درک کوم چې کله هغوی اعتراض کوي چې حکومت یې دومره سخت نه دی لکه دښمن چې دی.

دولت: یقیناً، دا له نېکه مرغه نوې خبره نه ده، بلکې کلونه مخکې زموږ ځینې افسران په پاکستان کې قهرېدلي وو. هغوی له ناوړه حالت سره مخ شوي وو.

سینها: په ۱۹۸۰ یمه لسیزه کې په اوتراکنډ کې د یوه افسر انځور په داسې حال کې رسنیو خپور کړی و، چې مخ یې تک سور و او اوبه پرې شیندل کېدې.

دولت: بالکل یو پې یا د اوتراکنډ یو مسلکي غړی و. هغه قهرېدلی و.

دوراني: زه عمومي رئیس وم، نو ځکه مې داسې کومه پېښه یاد ته نه راځي.

دولت: نوم مې یې په یاد نه دی ځکه دقیق نه پوهېږم چې دا یې اصلي نوم و او که مستعار.

دوراني: دا چې دا یو کتاب دی او پراخ موضوعات په ځان کې رانغاړي، نو اجازه راکړه چې څرګنده یې کړم، ډیپلوماتان، اتشې او نور افسران له دواړو خواوو څخه له ستونزې سره مخ وو. دا به یوه استثناء وه چې کومه ورځ به هغوی له سختو پابندیو او شرایطو خلاص وو.

سینها: که د دواړو سازمانونو له لوري د رسنیو د کارونې په اړه راته ووایاست؟

دوراني: یو څه چې د دواړو ترمنځ ډېر معمول دي، هغه رسنیزه جګړه ده. هغوی حتی ټلوېزیوني چاینلونه تمویلول چې کار ورته وکړي. لومړنی چاینل یو هندي چاینل و چې پیسې ورکړل شوې.

دولت: چا پیسې ورکړې، ISI؟

دوراني: نه ISI ډېر وروسته دې کار ته مخه کړه.

دولت: هغه وایي چې یو هندي ټلوېزیون د یوه هندي استخباراتي سازمان له لوري سپانسر شوی و.

دوراني: د را له لوري. که اشتباه مې نه وي کړې، ۲۵ میلیونه ډالره ورکړل شوي وو. دا هغه مهال کمې پیسې نه وې.

**دوام لري...**

# د رسنیو اقتصاد




رسنۍ او ارتباطات هر وخت او په پرله پسې ډول د غیر اقتصادي ځانګو په ذریعه په دودیزه توګه تر مطالعې لاندې نیول شوي دي. د بېلګې په توګه، د رسنۍ د محتوا تحلیل کېدای شي، چې د هغه ارزښتي ټولنو او نظامونو د درک لپاره استفاده شي، چې موږ پکې ژوند کوو.

د رسنیو اقتصاد، د اقتصاد د علم مطالعه د رسنیو له مطالعې سره ګډوي او هغه اقتصادي بدلونونه څېړي چې د مدیرانو، فعالانو او د رسنیو د برخو د نورو تصمیم نیونکو ټاکنې هدایت او یا هم محدودوي.

په دغه برخه کې د رسنیو د اقتصاد ځینې هڅې شوې دي. د رسنیو د اقتصاد په اړه د الباران تعریف، د ډېرو اړتیاوو او غوښتنو په برخه کې د محتوا د تولید لپاره له کم پیدا منابعو څخه د رسنیزو صنایعو د استفادې پر څرنګوالي ټینګار کوي.

«د رسنیو اقتصاد» کتاب د همدې تشې د راډکولو په نیت تر هېوادوالو رسېږي. دا کتاب د ژورنالېزم او اقتصاد له تړاوه راته غږېږي. رسنۍ پر اقتصاد څومره اغېز کوي او اقتصاد پر رسنیو کوم اغېز کړی؟ تبلیغات څه دي؟ ولې کېږي او څرنګه باید وشي؟ له انټرنېټه د عاید لاسته راوړلو کېسه څرنګه ده؟ ټولنیزې رسنۍ، د ټلوېزیوني خپرونو اقتصادي ځانګړنې کومې دي او په خپله ټلوېزیوني خپرونې څه دي؟ نوې رسنۍ او تبلیغات یې، د بازار متغییر جوړښتونه او پولې او... دا ټول موارد په دې کتاب کې په ډېره ښه بڼه توضیح شوي دي.

دا برخه ځکه ډېره اړینه ده، چې موږ یې په نړیواله کچه عملي پایلې ګورو. هند له بالیووډ سینما دومره عاید اخلي، چې د هېواد د اقتصاد ستره برخه یې پرې تکیه ده. دا د ژورنالېزم او اقتصاد د تړاو اهمیت راته جوتوي.

د کتاب چاپ کوونکې منبع وایي، موږ همدې اهمیتونو ته په کتو دغه کتاب تر هېوادوالو رسوو او باور مو دا دی، چې منځپانګه به یې ابتکاري وي.

کتاب د مشهور لیکوال «ګیلیان دویله» لیکلی اثر دی او تکړه ژباړن «روح الله زهیر» یې پښتو ته د راژباړلو خواري کړې ده.

مینه وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو هم په مناسب قیمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د خیام روباعیات | عمرخیام/عبدالباري جهاني | ۲۵۰ؒ |
| ۲ | لغتپوهنه | دولت محمد | ۱۳۰ؒ |
| ۳ | کیمیای سعادت (پښتو) | امام ابو حامد الغزالی/حبیب الرحمن مدني | ۳۵۰ؒ |
| ٤ | فضایل اعمال | محمد زکریا کاندهلوی/محمدرسول سعید | ۲۳۰ؒ |
| ٥ | په اسلام کې د فقر درملنه | یوسف قرضاوي/عمران لمر | ۱۸۰ؒ |
| ٦ | نوی الحاد په رنګینه بڼه | مراد یوسفي/عزیزالله شهباز | ۲۳۰ؒ |
| ۷ | فساد | عبدالحمید جودة السحار/سیداحمد اشرفي | ۱۵۰ؒ |
| ۸ | مبادي مایکرو بیولوژي | نورمحمد نیاز، فیض الرحمن رحماني | ۳۵۰ؒ |
| ۹ | د ډیپلوماسۍ بنسټونه | اسدالله الفت | ۱۵۰ؒ |
| ۱۰ | جیودیزي انجنیري | شاه ولي څرګند | ۳۸۰ؒ |
| ۱۱ | اساسات جیودیزی | شاه ولی څرګند | ۵۰۰ؒ |
| ۱۲ | کاملترین مجموعه وسوالات ستاژهای (حقوقی، فضائی، تقنینی و وکالت دفاع) | محب الله راشد | ۳۲۰ؒ |
| ۱۳ | حقوق کار | محمدجعفر کوهستانی | ۱۸۰ؒ |
| ١٤ | رهنمای تطبیقات مایکرو بیولوژی | نورمحمد نیاز | ۲۰۰ؒ |
| ۱۵ | مبانیدیپلوماسی | میرحسین تلاش | ۳۵۰ؒ |
| ۱٦ | کریمنولوژي | نورجهان یوسفزی | ۱۵۰ؒ |
| ۱۷ | فزیولوژی‌نباتی | آقا رحیم وسیم | ۳۵۰ؒ |
| ۱۸ | تاریخ معاصر افغانستان | حبیب پنجشیری | ۱۷۰ؒ |
| ۱۹ | مبانی سازمان و مدیریت | خلیل الرحمن سروری | ۳۵۰ؒ |
| ۲۰ | مدیریت منابع انسانی | خلیل الرحمن سروری | ۳۵۰ؒ |
| ۲۱ | آمادگی امتحانات بست های حمایوی سوم الی ششم خدمات ملکی | مزمل وردګ | ۳۵۰ؒ |
| ۲۲ | مدیریت پروژه | محمد نعیم عظیمی | ۲۵۰ؒ |
| ۲۳ | ادب تاریخ(لرغونی دوره) | محمد اسمعیل یون | ۲۷۰ؒ |
| ۲٤ | حقوق اساسی بارویکرد نظام جمهوری اسلامی افغانستان | سمیرالله حسام | ۲۵۰ؒ |
| ۲۵ | تاریخ افکار سیاسی | عنایت الله خلیل هدف | ۱۸۰ؒ |
| ۲٦ | تاریخ سیاسی جهان | احمدخالد حبیبی | ۱۵۰ؒ |
| ۲۷ | تاریخ عقاید اقتصادی از افلاطون تا دوره معاصر | فریدون تفضلی | ۱۸۰ؒ |
| ۲۸ | حقوقي بنسټونه | احمدګل واثق درانی | ۲۳۰ؒ |
| ۲۹ | د مخدره توکو ارواپوهنه | نصیب الله ذکي | ۱۵۰ؒ |
| ۳۰ | د رسنیو اقتصاد | ګیلیان دویله/روح الله زهیر | ۲۰۰ؒ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۰۵ |
| € | ۸۹ |
| Rp. | ۴۵۳ |
| ₹ | ۱۰۴۰ |
| ¥ | ۱۰,۶۰ |
| £ | ۹۷ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# تاسو د هرې ننګونې په پرتله ډېر پیاوړي یاست

ژباړه: عطامحمد میاخېل

که د خپل ژوند له شرایطو څخه ناخوښه او ناراضي یاست او سخت دوران تېروی، نو ډاډه اوسئ چې له هر هغې ننګونې څخه چې په ژوند کې مو رامنځ ته کېږي، کولای شی ووځی. انګېزه بښونکی امریکایي ویناوال، لیکوال او پخوانی کمیډین سټیو ریبزو چې د خپلو طنزي لیکنو له کبله ډېر مشهور و، دا موضوع زموږ لپاره په ښه بڼه توضیح کوي، هغه وایي:

یوازینی څیز چې د دې مقالې له لوستلو وروسته یې له تاسو څخه غواړم، دا دی چې دې ته متوجه شئ چې د ودې لپاره د یوې مثبتې چارې په توګه په ژوند کې د هرې ننګونې د تجربه کولو ځواک او وړتیا لری، پام مو وي، نه مې دې ویلي چې ځینې ننګونې، بلکې ومې ویل ټولې ننګونې او هغه ټګلارې چې په پای کې یې دا ننګونې تجربه کوی، د تفکر د پروسې له لارې د حل وړ دي.

زما دغه جمله «د هر څه په اړه چې فکر وکړی، هماغه دې په برخه کېږي» ډېره زیاته خوښېږي او چې کله مې دې ته پام شو، چې دا جمله څومره مهمه ده، نو په ژوند کې مې د بنسټیز بدلون رامنځ ته کېدل پیل شول.

که تمه لرئ چې پر سختیو باندې غلبه وکړئ، باید پر دې باندې پوه شئ چې له اوسنیو شرایطو څخه مو درک څه دی؟ هغه تاسو ته څه هیله درکوي او یا که مو تسلیموي؟ که تل په دې اړه فکر کوئ چې ولې هېڅکله نه بریالي کېږئ، نو تل به بې وسه پاتې شئ. بې وسه پاتې کېدل به ښه څېزونه تاسو ته په ډالۍ کې در نه کړي، که غواړئ ژوند مو ښه کړئ، نو په اګاهانه توګه په خپلو افکارو، خبرو او چلند کې بدلون رامنځ ته کړئ.

په هر ډول شرایطو کې په ځانګړې توګه سختو وختونو کې ژوند تل له تاسو څخه دا پوښتنه کوي: «فکر کوئ څوک یې؟» که هغه څوک یاست کوم چې فکر یې کوئ، په هر ډول شرایطو کې به هماغه کس وئ.

نه یوازې دا ژوره پوښتنه دا ټاکي چې څنګه له خپل ځان سره چلند وکړئ، بلکې له تاسو سره د نورو چلند هم ټاکي.

له دې امله کله چې له ننګونکو شرایطو سره مخ کېږئ یا یو سخت دوران تجربه کوئ او یوه تصمیم نیولو ته اړتیا لرئ، په یاد مو وي چې ژوند له تاسو څخه پوښتي: «فکر کوئ چې څوک یاست؟» په هماغه شېبه کې د معلوماتو موقعیت ته داخلېږئ، دا معلومات دي چې تاسو ښه احساس نه لرئ چې په نړۍ کې مو عاطفي فشارونه لا هم پر خپل ځای پاتې دي.

دغه راز د معلوماتو حالت دی چې تاسو له شرایطو سره د مقابلې ټاکنه لرئ. د ډېری کسانو د ژوند په اوږدو کې دې چارې ته پام نه کېږي، چې احساسات او منفي افکار یې د ژوند تګلوری ټاکي.

کومې ننګونې چې ورسره مخ یاست، هر هغه څه چې غواړئ: درناوی، منندوی یې، بریا، نېکمرغي او مینه په دې پورې تړاو لري چې څنګه په هر ډول شرایطو کې خپل ځان ارزوئ، وروسته بیا پایله د هغه چا په وسیله ټاکل کېږي، چې فکر کوئ هغه کس یاست. کله چې یوه ښه او سالمه پایله ناشوني کېږي، په یاد ولرئ چې خپل لید ته د یوه تولیدي تفکر په ښه بدلون ورکړئ. بل هر څه درته خطر ناک دي.

پر دې باندې پوه شئ چې په تاسو کې ډېر هغه څه شته، چې په وسیله یې کولای شی له هرې ننګونې سره مقابله وکړی او په لوړ غږ سره ووایئ: «که دې وضعیت ته په غوسې او وېرې سره ځواب ورکړم، څه کېږي؟»، «څنګه کولای شم چې دې وضعیت ته په هغه ښه بڼه بدلون ورکړم، چې ما ته ګټور وي؟»، «کوم تصمیم چې نیسم په لنډ او اوږدمهال کې به څه اغېز ولري؟»، (په کورنۍ، دوستانو او همکارانو باندې مې څه ډول اغېز کوي؟» او «کولای شم څه څېزونه ترې زده کړم؟»

کله چې دا اسانه او ساده ستراتیژي پر عادت باندې بدله شي، هغه ده چې بیا پر دې باندې هم پوهېږې چې هېڅ وضعیت یا کوم څوک نه شي کولای، چې ځواک مو درنه واخلي، مګر دا چې خپله اجازه ورکړې چې دا پېښه رامنځ ته شي.

بریا او خوشالي ته د ژوند ځغلېدلې لاره، په عاطفي تصمیم نیونې پورې تړاو لري، یا په بل عبارت، تاسو باید تصمیم ونیسئ، څو هغه بدلونونه چې په اړه یې فکر کوئ او پرې تمرکز کوئ، رامنځ ته کړئ.

کله چې تصمیم نیسئ، د مینې، هیلې او خوشبینۍ له لارې د نړۍ په لیدلو ډېر وخت او انرژي ولګوئ، نو په دې اړه د فکر کولو لپاره چې ولې دومره ناراضي یاست، ډېر کم وخت ولرئ او په دننه او شاوخوا کې به یو ستر بدلون تجربه کړئ.

هر څه په دې پورې تړلي دي چې څه فکر کوئ او څوک یاست.



## مبک: د کانونو وزارت ۳۱ ریاستونه په ناقانونه توګه د سرپرستانو له خوا اداره کېږي

له اداري فساد سره د مبارزې د څارنې او ارزونې ګډې کمېټې یا مبک راپور ښیي چې کانونو وزارت له دوو کلونو راهیسې د دې کمېټې له ۱۹۱ سپارښتنو د ۲۵ سپارښتنو په اړه هېڅ اقدام نه دی کړی او دغه وزارت ۵۸۹ خالي بستونه لري چې له دې یې ۳۱ ریاستونه په غیر قانوني ډول سرپرستان اداره کوي.

مبک د کانونو او پټرولیم په وزارت کې د اداري فساد د ارزونې په تړاو د ۲۰۱۸ ز کال په اکتوبر میاشت کې یو راپور خپور کړی چې د هغه له مخې، دغه وزارت ته یې ۱۹۱ سپارښتنې ټاکلې دي.

د دې کمېټې د دارالانشا رییس میوند روحاني تېره ورځ په کابل کې یوې خبري ناسته کې وویل چې د مبک اداري د سپارښتنو عملي کولو لپاره پرله پسې درې راپورونه خپاره کړي او نن یې څلورم راپور خپور کړ.

دی وایي: «د مبک راپور له مخې، کانونو وزارت له تېر یو کال راهیسې ۲۱ سپارښتنې په بشپړ ډول پلي کړي چې له دې سره ټولې ۹۱ سپارښتنې پلي شوې، ۷۱ سپارښتنې په قسمي ډول عملي شوي خو لا هم د ۲۵ سپارښتنو عملي کولو په اړه هېڅ اقدام نه دی شوی.»




هغه زیاته کړه چې دغه وزارت د حرفوي کان کیندنو مرکز جوړولو، د بېلابېلو ریاستونو د کړنو کلنۍ ارزونې، داخلي پلټنې په اړوند د پلټونکو ډلې ډېروالي او مسلکیتوب له یې پاملرنې، هغه کانونه چې په شخصي څمکو کې کیندل کېږي، د اشخاصو مالکیت خوندیتوب په اړه یې د تګلارې جوړولو، د کان کیندنې پر مهال د چاپېریال خوندیتابه مسئلې ته رسېدنې، مدني ټولنو او د سیمې خلکو ته د کانونو په څارنه کې د ونډې ورکولو او له کان کیندنې وړاندې د چاپېریال ساتنې اړوند رسمي تایید ترلاسه کولو په برخو کې هېڅ سپارښتنه نه ده پلي کړې.

روحاني زیاتوي، مبک په خپلو راپورونو کې د ځار ترڅنګ پر یوې ځانګړې موضوع هم پلټنه کوي چې دغه ځل یې د دغه وزارت د بشري سرچینو برخه څېړلې ده.

د کانونو او پټرولیم وزارت وياند عبدالقدير مطفي بیا وایي چې دغه وزارت د یادې کمېټې ۱۲۴ سپارښتنې بشپړې پلي کړې، ۳۶ سپارښتنې د پلي کولو په حالت کې، ۲۱ نورې سپارښتنې دي چې وزارت پورې اړه نه لري او په لس سپارښتنو کې د نه طبیق موارد شامل دي.

## ارګ: طالبانو د سولې په تړاو د دوحې له تړون څخه سرغړونه کړې

د ولسمشرۍ مانۍ ویاند صدیق صدیقي وایي چې له امریکا او ناټو سره د افغانستان اړیکې پر دوو اړخیزو ګټو ولاړې دي. نوموړي تېره ورځ په یوه خبري ناسته کې وویل، چې د امریکا او طالبانو ترون له لاسلیک وروسته طالبانو د سولې ټګنبت په برخه کې په خپلو ژمنو عمل نه دی کړی.

صدیقي زیاته کړه، سره له دې چې د طالبانو چلن جګړه بیز دی، خو حکومت بیا هم د سولې ټګنبت لپاره هڅې کوي. صدیقي همدارنګه له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو د وتلو په تړاو وویل: «له امریکا او ناټو سره به زموږ اړیکې له منځه ولاړې نه شي، ځکه چې زموږ اړیکې په عامه ګټو ولاړې دي، موږ اوس هم د ترهګرۍ له ګواښ سره مخ یو، طالبان، القاعده او نورې لسګونه ډلې اوس هم په افغانستان کې فعالیت کوي، دا چې افغانستان بیا د ترهګرۍ په خاله بدل نه شي، موږ به خپلو اړیکو ته دوام ورکوو.»

صدیقي وایي، حکومت، امریکا او ناټو ټول دې ته ژمن دي چې افغانستان یوځل بیا د ترهګرو پر ځاله بدل نه شي او د تېرو ۱۹ کلونو لاسته راوړنې خوندي شي.

نوموړی دا څرګندونې په داسې حال کې کوي، چې امریکایي چارواکي وایي چې د روان زېږدیز کال تر پایه به په افغانستان کې د خپلو سرتېرو شمېره له پنځو زرو څخه څخه دوه نیمو زرو ته کمه کړي.

خو د ناټو سرمنشي جینز ستولټنبرګ ویلي چې له افغانستان څخه په بېړه د ځواکونو ایستل به ډېر خطرناک وي او په ګرانه بیه تمام شي.

د ولسمشرۍ مانۍ ویاند زیاته کړه، ټاکل شوې چې ډېر ژر به د پاکستان لومړی وزیر عمران خان کابل ته راشي، اقتصادي اړیکې او دوه اړخیزې مرستې له هغه ټکو دي چې عمران خان به یې د افغان حکومت له پلاوو او ولسمشر غني سره په اړه خبري وکړي.

هغه زیاته کړه، افغان حکومت د جینوا ناستې لپاره هر اړخیزه چمتووالی لري او نړیواله ټولنې به ډېر ژر اعلان وکړي چې د نورو څلور کلونو لپاره به هم د افغانستان له خلکو سره پاتې کېږي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer
New Vision, New Journey
Daily



غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!

WAYGAL PRINTING CO

if You Can Think it, we Can ink it.

+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com



چهارشنبه د ۱۳۹۹ د لړم ۲۸مه | د ۲۰۲۰ د نومبر ۱۸مه | ٦۳۱مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۷ | ۱٥ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۸ | ۱٥ |
| ۲- | ٤ | ۲ | ٦ | ۷ | ۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰٥:۰۳ | لمر ختل ۰٦:۲۹ | ماسپښین ۱۱:۳۹ | مازیګر ۰۲:۲۹ | ماښام ۰٤:٤۸ | ماخوستن ۰٦:۱٥

## ملل متحد: میلیون‌ها افغان به کمک‌های بشری نیاز دارند



فیلیپو گراندی رئیس کمیساری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان در چهارمین روز سفرش به افغانستان با نگرانی از افزایش خشونت‌ها در افغانستان گفت که این کشور هنوز هم بالاترین میزان بی‌جاشدگان داخلی و مهاجر را در سطح جهان دارد.

گراندی دیروز به خبرنگاران گفت که گفت‌وگوهای صلح دوحه فرصتی تاریخی برای نجات جان انسان‌ها و بدبختی‌های بی جا شده گی فراهم کرده است.

او گفت که هم آیندهٔ میلیون‌ها شهروند افغانستان و هم تعهد جامعهٔ جهانی برای بازسازی و توسعهٔ این کشور به نتیجهٔ موفقیت‌آمیز این گفت‌وگوها بستگی دارد.

آقای گراندی افزود که او در نشست ژینو که در روزهای آینده برگزار خواهد شد، سخنرانی می کند و به جهانیان خواهد گفت که هنوز هم میلیون‌ها شهروند افغانستان به شمول بی‌جاشدگان به کمک‌های بشری نیاز دارند: «من فکر می کنم پیامی که من به نشست ژینو انتقال خواهم داد این است که فراموش نکنید که در کوتاه مدت میلیون‌ها افغان به شمول بی‌جاشدگان به کمک‌های بشری نیاز دارند که شامل غذا، آب صحی، خدمات صحی و سرپناه می‌شود.»

رئیس کمیساری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگی از پاکستان و ایران خواست که در روند اخراج مهاجرین افغانستان از حوصله کار گیرند، چون به گفتهٔ او، خروج غیر داوطلبانهٔ این مهاجرین کارایی نخواهد داشت و آنان دوباره مهاجر خواهند شد.

## نړۍ




موډرنا: د کرونا ویروس پر ضد جوړ شوی واکسین ۹۵ سلنه ګټور دی

۳

## باېډن: که ټرمپ د کرونا په تړاو معلومات راسره شریک نه کړي، ناورین به رامنځته شي



د امریکا منتخب ولسمشر جو بایډن خبرداری ورکړی، که اوسنی ولسمشر ډونالډ ټرمپ د جنوری تر ۲۰مې (تر لوړې مخکې) د کرونا-ضد واکسین د وېش په باب معلومات له نوې اداري سره شریک نه کړي، ښایي په کرونا ویروس په امریکا کې د مړو شمېر لا زیات شي.

کله چې په دلاویر ایالت کې د یوه کنفرانس پر مهال له هغه له ولسمشر ټرمپ نه پر وخت د معلوماتو نه ترلاسه کولو د خطرونو په اړه پوښتنه وشوه، جو بایډن وویل: «که دا هڅې همغږې نه کړو، ښایي نور کسان هم ومري.»

ډونالډ ټرمپ چې تر اوسه یې د نومبر د درییمې نېټې د ټاکنو د پایلو له منلو او د جو بایډن له ډلې سره د معلوماتو له شریکولو ډډه کړې، له شواهدو وړاندې کولو پرته ادعا کړې، چې د ده رایې غلا شوې دي.

د امریکا د متحدو ایالتونو په معاصر تاریخ کې د ټرمپ دا ډول چال چلند بې مخینې بلل شوی دی. دا په داسې حال کې ده چې امریکا د کرونا ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او مړو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په دغه هېواد کې تر اوسه د کرونا ویروس له ۱۱ نیم میلیونو ډېرې مثبتې پېښې ثبت شوې او ۲٥۲ زره او ۷۹۲ امریکایان یې مړه کړي دي.

## علییف: ارمنیان دې په قره باغ کې د ویجاړیو له کبله په نړیواله محکمه کې ځواب ووايي

د اذربایجان ولسمشر الهام علییف او مېرمن یې مهربان علییف چې د ولسمشر لومړۍ مرستیاله هم ده، تېره ورځ د نګورنو قره باغ د غرنۍ سیمې د هغو ساحو لیدنې ته ولاړل چې د دغه هېواد پوځ د سختو جګړو په ترڅ کې له ارمني ځواکونو څخه نیولې دي.

باکو او ایروان، تېره اونۍ د مسکو په منځګړیتوب د سولې تړون لاسلیک کړ او د څه دپاسه شپږ اونیو جګړو ته یې د پای ټکی کېښېښود؛ هغه جګړې چې په زرګونو کسان پکې ووژل شول او په لسګونو زره نور بېځایه شول.


د دغه تړون پر اساس ارمنستان د ارمني جلاغوښتونکو تر کنټرول لاندې سیمې چې د ۱۹۹۰ لسیزې په جګړو کې یې نیولې وې، باکو ته تسلیموي. دغه تصمیم د ارمنیانو د غوسې او د اذربایجانیانو د خوښۍ سبب شوی دی.

د اذربایجان ولسمشر دغه راز ویلي: «قره‌باغ به خودمختاره نه وي. اذربایجان یو متحد هېواد دی».

په ورته وخت کې یوشمېر ارمنیانو له قره باغ څخه له وتلو مخکې خپل کورونه سوځولي دي. د اذربایجان ولسمشر وویل چې ارمنیانو په دې سیمه کې هر څه ویجاړ کړي او باید په نړیواله محکمه کې دې ته ځواب ووايي.

## ژوند

## دغه خواړه د بډوډو لپاره ښه دي



پښتورګي په بدن کې د فلتر په توګه کار کوي چې وینه له زهرجنو حجرو او ضایعاتو څخه تصفیه کوي او مثانې ته یې استوي څو د تشو بولو له لارې خارج شي. له نیکه مرغه تاسې کولی شی د پښتورګو روغتیا ته په پاملرنې سره دغه خطرونه کم کړی او دا د ځینو خوړو له لارې ممکن دي. هغه خواړه موږ درته ښیو:

هوږه: هوږه یوازې زړه ته نه؛ بلکې د پښتورګو د روغتیا لپاره هم غوره خواړه دي، دا په خوراک کې د اضافي مالګې اندازه کموي.


پیاز: پیاز ځینې ویټامینونه، منرالونه او د پښتورګو لپاره ګټور د اکسید ضد مادې لري.

کورکمن: کورکمن له التهاب او اکسیدونو څخه ډک خواړه دي، دغه راز په پراخه کچه مګنیزیم او اوسپنه هم لري.

منه: د التهاب پر وړاندې د مبارزې لپاره منه غوره خواړه دي، دا په پراخه کچه ویټامن سي لري او د اکسیدونو ضد ده.

## د ګلکسي اېس۲۱ نورې مهمې ځانګړنې

سامسُنګ کمپنۍ غواړي چې د ۲۰۲۱ کال په پیل کې د ګلکسي اېس۲۱ (یا کېدای شي اېس۳۰ ونومول شي) د لړۍ ځیرک موبایلونه وړاندې کړي او له وړاندې څخه یې په دغو ځیرکو موبایلونو کار هم پیل کړی دی. له اوږدې مودې څخه د ګلکسي اېس۲۱ اړوند د معلوماتو افشا کېدو لړۍ هم ادامه لري. تر دې دمه د دغو ځیرکو موبایلونو د ډیزاین، کامرې، د کامرو ورتیاوو، د وړاندې کېدو نېټې او نورو په اړه معلومات افشا شوي دي؛ خو اوس د معلوماتو افشا کوونکې باوري سرچینه، اېس یونیورس، د دغو ځیرکو موبایلونو چې کېدای شي د ۲۰۲۱ کال د جنوري په ۱۴مه کاروونکو ته معرفي شي، په اړه نور مهم معلومات هم شریک کړي دي.




سامسُنګ کمپنۍ ګلکسي اېس۲۰ ځیرکو موبایلونو کې له لوړ ریفرش ریټ څخه د ملاتړ ټکنالوژي وړاندې کړه، خو کاروونکو لوړ ریزلوشن کې د ۱۲۰ هرتز ریفرش ریټ څخه ګټه نشو پورته کولی او د دې ځانګړنې له فعاله کېدو سره یې ریزولوشن ۱۰۸۰ پي ته ښکته شو چې سامسُنګ کمپنۍ له دې امله د کاروونکو له نیوکو سره هم مخ شوې.


عزیزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې بڼوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ سټېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره **1515** شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af 1515